# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۷ ګڼه / چهارشنبه ۰٤ ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰۳ جوزا ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۲٤ می ۲۰۲۳ میلادي


سرپرست وزارت صنعت و تجارت:

## هیئت افغان با مقامات فدراتیف روسیه نشست‌های پر دستآوردی داشتند

سرپرســت وزارت صنعــت و تجــارت در دیــدار با کفیل ریاســت‌الوزراء پیرامون سفر اخیر هیئت همراهش به روسیه معلومات ارایه نمود و این سفر را پر دستآورد خواند.

دفتر مطبوعاتی ریاســت الوزرا دیروز با نشــر ایــن خبر گفته اســت که مولــوی عبدالکبیر معاون سیاسی و کفیل ریاست الــوزراء با نورالدیــن عزیزی سرپرســت وزارت صنعت و تجارت دیدار کرد.

در این دیدار نورالدین عزیزی گزارش و دســتآوردهای سفر خود به روســیه و کشورهای منطقــه را بــا کفیل ریاســت الوزراء شــریک ساخت و این سفرها را پر دستآورد خواند.

عزیزی گفت که هیئت افغانی با مقام‌های فدراتیف روسیه در خصوص تولید برق در کشور، استخراج معادن، واردات مواد نفتی و خوراکی... ص۷

مولوي عبدالکبیر:

## له طبیعي پېښو د زیانمنو سیمو د پېژندنې ظرفیتونه دې لوړ شي



دریاست‌الوزراء کفیل، پېښو ته درسېدو په چارو کې د دولت وزیر ته ویلی دي چې باید په کور دننه طبیعي پېښو ته په کتو د مرستو رســولو، د زیانمنېدونکو ســیمو د پېژندنې او مخنیوي ظرفیتونه لوړ شــي. د ریاســت الوزرا سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر تیره ورځ پېښو ته د رسېدو په ۷مخ

د کورنیو چارو وزارت سرپرست:

## تر هغو چې اخلاقي اصول حاکم نه شي، د باور واقعي فضاء نه رامنځته کېږي



د کورنیو چارو وزارت سرپرســت خلیفه سراج الدین حقاني تیره ورځ د افغانســتان لپاره د چین له سفیر وانګ یو سره وکتل.

د چین سفیر په دغه کتنه کې وویل، چې «چین د افغانســتان تر څنګ ولاړ دی او مونږ په دې باور یو، چې د ملتونو پرمختګ یوازې په یوۀ آزاد او خپلواک چاپېریــال کې ممکن دی او افغانان اوس همداســې یوه مسیر ته برابر شوي دي.»

نومــوړي زیاته کړه، چــې چین په نورو هېوادونو د فشارونو، بندیزونو او لاســوهنې د سیاســتونو پلــوي نه کــوي او د اســلامي امارت پر وړاندې هــم د فشــار او بندیزونو سیاست نه تائیدوي.

د کورنیو چارو وزارت سرپرســت خلیفه ســراج الدین حقاني په دې اړه د چین هېواد د واقعبینانه موقف ســتاینه وکړه او ویې ویل په نړیوال تعامل کې د عدالت عنصر ډېر مهم دی.

حقانــي زیاته کړه: (تــر هغو چې اخلاقي اصول په دې ســاحه کې د ضوابطو په توګه حاکم نه شــي، د باور واقعي فضاء نه رامنځته کېږي) .

د کورنیو چارو وزرات سرپرســت همدارنګــه وویــل چې نــورو ته په ذهــن او عمل کې شــر پالنه یو ناروغ سیاســت دی، مونږ په ښــو اړیکو باور لرو او د اسلامي امارت تګلاره د تعامل او تفاهم ده.

د یادونې وړ ده، چــې په دغه کتنه کې دواړو لورو پاکستان په پلازمېنه اســلام آباد کــې د درې اړخیزې ناســتې پایلې مثبتې وارزولې او پــه ېبلابېلو برخو کــې د اړیکو په پراختیا ټینګار وشو.

## ۱۴ میلیونه ډالر لیلامېږي



د افغانستان بانک ۱۴ میلیونه ډالر د لیلام په ډول پلوري.

یاد بانک په خپلــه ټویټرپاڼه لیکلي دي، چــې د افغانســتان بانک نن د روان کال د غبرګولــي پــه ۳مه نېټه د چهارشــنبې په ورځ، ۱۴ میلیونه امریکایــي ډالــره د لیــلام په ډول پلوري.

سرچینې همدارنګه په شرایطو برابر صرافانو او ســوداګریزو بانکونو ته بلنه ورکړې، چې په دغو داوطلبیوکې ګډون وکړي... ۷ مخ

## لغمان کې ۳۰ کیلو متره نوی سړک جوړېږي



لغمان ځایي مسوولین وایي چې د دغه ولایت د دولت شــاه ولسوالۍ اړوند د نویــا درې خندلو تر غربي نورســتان پورې د یوه نوي ســړک د جوړېدو چارې د ولســي خلکو له لوري پیل شوې.

د دولت شاه ولسوال قاري عبدالقاهر متوکل وویل، چې د غربي نورستان د ولسونو په غوښتنه د یادي ۷مخ

## بېلابېلو ولایتونو کې له ترافیکي پېښو ۱۶ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې



په پــروان، غزني، نورســتان او غور ولایتونو کې د ترافیکي پېښــو له امله ۱۶ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د پروان او غزني ولایتونو ســیمه ییز امنیتي چارواکــي وایي، چې په دغو دوو ولایتونو کې د ترافیکي ۷مخ

## بامیانو کې د ۲۴ روغتیایي مرکزو د رغونې چارې پیل شوې



د بامیانو په مرکز او شپږو ولسوالیو کــې د ۳۵.۵ میلیونــو افغانیو په لګښــت د ۲۴ روغتیایي مرکزونو د ترمیــم او رغولــو چــارې پیل شوې. د یادو روغتیایي مرکزونو د بیارغونې چارې د بامیانو ۷مخ

## فاریاب کې د درېو سیمو بیا رغونې اصلاحي پلان تائید شو

د کــور او ښــار جــوړو وزارت د فاریــاب ولایــت د کوهــي خانه، خواجه پایتخت او نذیرآباد سیمو د بیارغونې اصلاحي پلان د ۷مخ

## هرات کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا د تولید پروژې چارې پیلېږي



د اوبو او برېښــنا وزارت وایي چې پــه هرات کې به د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا د تولید پروژې کار ژر پیل شي. د دغه وزارت د سرپرســت په وینا، یوه ترکي کمپنۍ په دې برخه کې پانګونه کوي. له بلې خوا د هرات اوسېدونکي د برېښنا د تولید ...۷مخ

### سرمقاله

## افغانان دې له موجوده فرصته پوره ګټه واخلي!

په دې کې شــک نشته چې افغان ملت اوس هم له ګڼو ستونزو سره مخ دی، مثلاً حکومت یې په نړۍ کې د هېچا له خوا په رســمیت نه دی پېژندل شوی، د یو شــمېر ګاونډیو او نورو مغرضو هېوادونو له ګواښــونو سره مخ دی، د هېواد پرفضا یې پرله پســې تېری کېږي، د پردیــو بې پیلوټه الوتکو او توغندیو تر برېدونو لاندې دی، شــتمني یې په ظالمانو توګه ګنګل شــوې، پرمشرانو یې ســفري بندیزونه او پربانکونو یې محدودیتونه لګېدلي، د پاسپورټ او افغاني نوټونو چاپ یــې له ســتونزو ډک دی، مفســدې او وران کارې ډلګۍ تمویل او تشــویقېږي په هره برخه کې له ستر دروغجن تبلیغاتي یرغل سره مخ ، د نړۍ په لرو برکې خپاره مســافر او د ننه هېواد کې د ژوند له زیاترو ســهولتونو بې برخې هم دي، خو له دې ګردو مشکلاتو سره سره بیا هم د تېرو دوو یرغلونو د زمانې په نسبت اوس د لوی څښتن په فضل اوکرم سره ښــته ډېر په ښه اوغوره وضعیت کې دی، اوس د هېواد په ګوټ ګوټ کې له بشپړامنیته خوند اخلي، د پردیو له غلامۍ خلاص هســکې شملې ویاړمن ژوند کوي ، د سر ،ناموس ،عقیدې او مال له پلوه هېڅ ډول خطرنه محسوسوي، کاملاً په ډاډه زړه د خپل...۲مخ

امیر خان متقی؛ نباید مسئله آب را سیاسی ساخت صفحه ۲

دیپلمات‌های جمهوریت؛ حافظ منافع خود یا کشور صفحه ۲

مدبر او سیاست پوه امیر تقبله الله ٤ مخ

## په عینک کې کشف شوي تاریخي اثار ملي موزیم ته وسپارل شول




لســګونه قلمه تاریخــي اثار، چې د لوګــر ولایــت د مــس عینک په تاریخي ســیمو کې کشف شوي وو د افغانســتان ملي موزیم ته وسپارل شول.

یاد تاریخــي اثار، چې شــمېر یې ۱۱۴ ته رسېده پرون په رسمي توګه د لرغون پېژندنې ریاست د استازي له لوري د ملي موزیم... ۷مخ

## غور کې سلګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې


د غور د کلیــو، بیارغونې او پراختیا ریاست مســؤلین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز فیروزکوه ښــار کې د څښاک اوبو یوه شبکه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د مسؤلینو په وینا، چې دغه شــبکه د ۴ میلیونو او ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړه شوې، چې پرمټ یې سلګونو کورنیو ته د څښــاک اوبه برابرې شوې دي. هېره دې نه وي، چې له دې وړاندې هم پــه دغه ولایت کې دې ته ورته د څښاک اوبو شــبکې جوړې شوې، چې پر مټ یې ســلګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

## کابل کې د وزیرآباد کانال د پاکولو چارې پیل شوې



د ځمکې د ســر اوبــو د مدیریت په موخــه، د کابل ښــاروالۍ د تنظیف ریاســت د کارکوونکو له لوري له لب جر خلورلارې څخه د ټایمنی ۲مخ

## پنجشېر ته ۸ تنه پولنډي سیلانیان ورغلي



د پنجشــېر د اطلاعاتــو او کلتــور ریاست مســوولین وایي، چې د دغه ولایت د تفریحي او تاریخي ســیمو څخه د لیدنې په موخه د پولنډ هېواد ۸ سیلانیان ورغلي دي.

د دغه ولایــت د اطلاعاتو او کلتور رییس مولانــا نصرالله ملــک زاده له دغو سیلانیانو ســره په لیدنه کې وویل، چې په دغه ولایت... ۷مخ

## خوست کې ۱۲ ټنه تاریخ تېرخوراکي توکي وسوځول شول



د متون ښــاروالۍ لــه لوري د دغه ښــار له بېلابېلو هټیــو څخه راټول کړل شــوي ۱۲ ټنــه تاریــخ تېره خوراکي توکي وسوځول شول.

د متون ښــاروالۍ مسوولین وایي، چــې دغه تاریخ تېــره خوارکي بې کیفیته توکي د مارکېټونو... ۷مخ

# نباید مسئله آب را سیاسی ساخت

امیر خان متقی سرپرست وزارت امورخارجه، از ایران خواست که مسئله آب را سیاسی نسازد.
مبصر آژانس باختر مینگارد؛ امیر خان متقی سرپرست وزارت خارجه امارت اسلامی، در تازه ترین گفته هایش بیان داشته است: موضوع آب را سیاسی نسازند و به جای سرو صداهای مطبوعاتی، این مسئله را از راه تفاهم و گفتگو حل کنند.
این گفته ها در حالی بیان می شود که در روز های اخیر، شماری از مقام های ارشد جمهوری اسلامی ایران، اظهاراتی در مورد حق آبه آن کشور از افغانستان، داشته اند .
این سرو صدا ها به سوژه مطبوعاتی برای شماری از رسانه های غربی ورسانه های مغرض دیگر مبدل شده است. این رسانه ها، با تبلیغات و گفته های نا متوازن شان ، تلاش کرده اند، روابط دوستانه میان دوکشور را تخریش کنند؛ در حالی که مسئله حق آبه ایران در سطحی نیست که روابط دوکشور را متاثر کند، زیرا با تدبیر وخرد می توان برای هر مشکلی راه حل پیدا کرد ودقیقا مولوی امیر خان متقی در اظهارات دیروز خود، به همین مسله تماس گرفته است وبیان داشته است که به جای سیاسی ساختن مسئله آب، این مشکل را از راه تفاهم و گفتگو و به اساس واقعیت هایی که در ساحه وجود دارد، حل کرد.
مقام های امارت اسلامی افغانستان جدا پابند به رعایت معاهده آب میان افغانستان وایران اند که در سال ۱۳۵۱ میان دولت های وقت دوکشور امضا شده است؛ مگر یک تفاوت وجود دارد که تغییر اقلیم ووضعیت جوی ، از سال ۱۳۵۱ تا امروز نه تنها افغانستان وایران، بل در مجموع کشور های همسایه، منطقه، فرامنطقه وجهان را با دگرگونی های اقلیمی مواجه کرده است، طوری که جهان خشکسالی های سختی را درراین مدت، شاهد بوده اند. مشکلات وآسیب پذیری های افغانستان از ناحیه تغییر اقلیم،واضح است. به اساس آخرین گزارش سازمان بین‌المللی نجات، افغانستان سومین کشور آسیب‌پذیر از تغییرات اقلیمی در سطح جهان است و این تغییرات بیشترین اثر مخرب را بر منابع آبی کشور گذاشته است. خشکسالی های مداوم وکاهش بی حد بارندگی باعث شده است که افغانستان بیشتر بیابانی شود وامروز ساحات جنگلی افغانستان کمتر از چهار در صد کل جغرافیای افغانستان است. همین مشکلات به کمبود آب وخشکسالی های مداوم پیوند دارد که نمی توان از آن سطحی گذشت وآن را نادیده گرفت؛ اینها مواردی از مشکلات اند که نیاز به توضیح ندارند.
امارت اسلامی افغانستان در دو سال گذشته، در راستای مشکلاتی که قابل کنترول و حل بوده، اقدام کرده است؛ ولی مجبوریت‌های خارج از کنترول و توانی که از ظرفیت‌های بشری بالا باشد، باید درک شود.
مشکلاتی را که برادران ما در سیستان وبلوچستان از ناحیه کمبود و حتی نبود آب بدوش می کشند، برای ما قابل درک است و هر چه از دست افغانان آید برای همکاری در این خصوص دریغ نمی کنند؛ بالاخره ما افغانان همسایه خوب استیم.
در حال حاضر بند کجکی خود دچار کمبود آب است. ذخیره آن از نصف کاهش یافته است؛ نیاز جدی است تا این حقایق در نظر گرفته شود.
پس نباید مسایلی که قابل بحث و حل اند ، به آن شاخ وپنجه داد وزمینه مداخله کشور های دیگر را در این مسله مساعد کرد.
ما باید تغییرات اقلیمی و خشکسالی و مشکلات عایده از آن را درک کنیم، آن را مشکل همگانی بدانیم و برای مدیریت در یک خط حرکت کنیم؛ پیوند میان خشکسالی، کمبود آب و حق آبه را پیدا کنیم ومنطقی موضع گیری نماییم .
با تاسف امروز حرف های احساساتی در رسانه های ایرانی مطرح می شود که «چگونه حق‌آبه خود را از افغانستان بگیریم» بیان اینگونه حرف های احساساتی ،بیشتر واکنشی می شود که مارا به جای نمیرساند. بهتر است به جای این که بگویم "چگونه حق‌آبه خود را از افغانستان بگیریم" به منطق مسئله خیره شویم و در پرتو واقعیت ها تصمیم بگیریم وبرای حل دایمی مشکلات ناشی از کمبود آب، برنامه ریزی های مشترک داشته باشیم.



## کابل کې د وزیرآباد...

د ۵ سرک تر څلورلارې پورې د وزیر آباد کانال د پاکولو چارې پیل شوې.
ټاکل شوې ده، دا کانال د روان کال په بهیر کې له دریم پروان څخه د هوایي ډګر تر شمالي برخې پورې د ۱۰ کیلو مترو په اوږدوالي له خځلو او خاورو پاک شي.
د دې کانال د بندېدو اصلي لامل د یو شمېر ښاریانو له لورې کانال ته د فاضلاب راګرځول او د کثافاتو اچول بلل کېږي.
د یادونې وړ ده، چې له سرای شمالي څخه تر لب جر او شهید څلورلارې پورې د وزیر آباد کانال د فرعي کانالونو د پاکولو چارې څه موده وړاندې بشپړې شوې وې.

## افغانان دې له موجوده ...

ژوند چارې پرمخ بیایي او له نېکه مرغه وروسته له دې چې څلوېښتو کلونو په روميي ډول د يو داسې خپلواک ،مرکزي اسلامي او ملي حکومت پرجوړولو بريالي شوي چې د هېواد هېڅ نقطه یې له حاکمیته بهر نه ده او نه یې پروړاندې کوم زورواکي ،بدماش او بغاوتګر د مخالفت کولو قدرت او جرئت لري، اوس ټول هېواد له خپل سرو دلو ټپلو، بغاوتونو، قومي او سمتي ګوندیو او تجزیه غوښتونکو بشپړ بې غمه شوی او د خاورې اولخلکو مخصلو خادمانو ته په لاس ورغلی دی. په دې اساس دا نو هغه غوره فرصت دی چې که حکومت او رعيت زړونه او لاسونه سره يو کړي، بې له شکه چې ډېر ژر او په لنډه موده کې به افغان ولس پرخپان بسیا، خپلواک ،خوندي او د سوکاله ژوند څښتن شي، واقعيت دادی چې افغانانو ته له ډېرو سختو شېبو ورڅو وروسته دا وخت يوه ډېره قیمتي او غوره موقع په لاس ورغلي او بايد چې هرڅ شیبې ته يې په ډېره درنه سترګه وکتل شي او په جدي ډول کار ترې واخيستل شي، په تېره د امارت مشرانو ته خو انتهايي ډر نادر چانس په لاس ورغلی څکه بنسايي په نړۍ کې داسې مثالونه ډېرکم وي چې يو اسلامي تحريک خپل هېواد کې دويمه پلاهم واکمني ترلاسه کړې وي.بناً موجوده بریمن حالت لکه د حال په ژبه چې وايي د امارت مسوولين دې له خپلي روميي دورې پند او عبرت واخلي او دويمه کې دې شپه ورځ کار او فعاليت وکړي هيله ده په دې ډول ربښتيني خپلواکي ته ورسېږي او وګړي يې پرخپل کور بسیا، سوکاله او د پرديو په دروازوکې له ذلت او بدرنګۍ وژغورل شي، د همداسې نېکمرغه ورځو په هیله .

# دیپلمات‌های وقت جمهوریت؛ حافظ منافع خود یا کشور

آگاهان روابط بین الملل می‌گویند کشورها بخاطر داشتن منافع و برقراری روابط و حل مشکلات شهروندان خود، نمایندگی یا سفارت در برخی کشورها باز می‌کنند، زمانی که نمایندگی یک کشور با حکومت خویش در ارتباط نباشد، به هیچ عنوان نمی‌تواند حافظ منافع کشور باشد.
به گزارش «آوا»، این اظهارات آگاهان روابط بین الملل در حالی مطرح می‌شود که دیپلمات‌های جمهوریت بدون توافق امارت اسلامی سفارت‌خانه‌های افغانستان را در اختیار دارند و به تازگی برای حفظ وظایف شان و در اختیار داشتن سفارت خانه‌های کشور روز(دوشنبه ۱ جوزا) انجمن هماهنگی بین شان تاسیس کرده اند.
احمد فواد نیازی، آگاه روابط بین الملل در صحبت با آوا گفت که کشورها بخاطر داشتن منافع و برقراری روابط و حل مشکلات شهروندان خود، نمایندگی یا سفارت در برخی کشورها باز می‌کنند، زمانی که نمایندگی یک کشور با حکومت خود در ارتباط نباشد، به هیچ عنوان نمی‌تواند حافظ منافع کشورخود باشد.
او خاطرنشان ساخت که دیپلمات‌های افغان که توسط رهبران جمهوریت به عنوان سفیر افغانستان در کشورهای جهان به کار گماشته شده بودند، اکنون هم برخی از سفارت خانه‌های کشور را در اختیار دارند و به هیچ کسی پاسخ گو نیستند، از این جهت دیپلمات‌های جمهوریت از نمایندگی‌های کشور برای منافع شخصی شان استفاده کنند.
به اساس گفته او دیپلمات‌های جمهوریت به دلیل اینکه از سوی حکومت موجود در افغانستان به عنوان سفیر کشور به رسمیت شناخته نمی‌شوند، از نگاه حقوقی نزد کشورهای جهان هیچ نوع مصونیت دیپلماتیکی ندارند.
نیازی، علاوه کرد: رهبران امارت اسلامی برای بدست آوردن آنعده سفارت‌خانه‌های کشور که در اختیار دیپلمات‌های جمهوریت است، باید روابط حسنه با کشورهای جهان بر قرار کنند و قناعت آنان را حاصل نمایند.
بعد از سقوط جمهوریت در افغانستان بسیاری از کشورهای جهان و سفیران حکومت گذشته با امارت اسلامی ارتباط برقرار کردند و نمایندگی‌های افغانستان را به امارت اسلامی سپردند، اما تعدادی از دیپلمات‌های جمهوریت بدون اینکه ارتباط با حکومت موجود در افغانستان داشته باشند سفارت‌خانه‌های کشور را در اختیار دارند.
در همین حال قدرت الله ابراهیم زاده، استاد دانشگاه و آگاه روابط بین الملل نیز در صحبت با آوا گفت که اختلافات بین رهبران امارت اسلامی و برخی کشورهای جهان بخاطر سپردن نمایندگی‌های سیاسی کشور به حکومت افغانستان، سبب مشکلات زیادی برای مهاجرین و تاجران کشور شده است.
او با ابراز اینکه فساد در برخی نمایندگی‌های کشور باعث مشکلات گوناگون برای شهروندان افغان شده است، افزود: اکثر دیپلمات‌های جمهوریت که نمایندگی‌های افغانستان را فعلاً در اختیار دارند، آلوده در فساد اند، زیرا آنان بعد از سقوط جمهوریت به هیچ نهاد ملی و بین المللی پاسخگو نیستند.
این استاد دانشگاه علاوه کرد که اگر امارت اسلامی نتواند نمایندگی‌های افغانستان را به همین زودی‌ها بدست بیاورد، احتمال زیاد وجود دارد که سفارت خانه‌های کشور تبدیل به تجارت خانه و مکان‌های مسکونی برای برخی دیپلمات‌های جمهوریت شود.
افغانستان در زمان جمهوریت در ۴۲ کشور جهان نمایندگی سیاسی داشت که بعد از سقوط جمهوریت و روی کار آمدن امارت اسلامی تعداد محدود آنان به دلیل عدم روابط کشورها با حکومت موجود در افغانستان بسته شده و تعدادی از نمایندگی‌های کشور توسط دیپلمات‌های جمهوریت اداره می‌شود.
به گفته مقامات امارت اسلامی بیش از ۱۴ کشور جهان نمایندگی‌های افغانستان را به حکومت موجود در کشور سپرده اند و تعدادی از کشورهای دیگر نیز قرار است که نمایندگی‌های کشور را به امارت اسلامی بسپارند.



# مدبر او سیاست پوه امیر تقبله الله

مولوي نورالحق مظهري

په دنیا کې ډېر مهم شخصیتونه تېرشوي، چې یاد ساتل یې زموږ مسئولیت دی تر څو راتلونکي نسلونه د هغوی په کارنامو خبر شي، د هغوی اهداف تعقیب کړي او د هغوی په شان ځانونه جوړ کړي.

له مهمو شخصیتونو یو هم شهید ملا اخترمحمد منصور تقبله الله دی چې نظام ته له داخلېدلو تر شهادت پورې یې ټول ژوند له ابتکارونو، کارنامو او درسونو ډک و.

د اسلامي امارت په لومړۍ واکمنۍ کې په ورسپارل شوې دنده کې د ارواښاد منصور ځلېدل، د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په اطاعت کې مخکښي، د خپلو صلاحیتونو په ساحه کې ولس ته د پام وړ خدمتونو عرضه کول، د ملګرو لپاره پوره غمخوري او خدمت، په افغاني ټولنه کې د علماوو او مخورو کسانو درناوي ته ژمنتیا او په اسلامي زرینو اخلاقو سمبالولی ځینې هغه نوښتونه او ځانګړتیاوې وې چې شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله



یې درلودونکی و او په خپل وخت کې د ټولو انسانانو له منځه الله تعالی د دغه اخلاقي او نزاکتي بشري امتیازونو لپاره غوره کړی و؛ الله تعالی دې شهید امیر ته جنت الفردوس په نصیب کړي.

د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ له ړنګېدو وروسته د امریکایانو په وړاندې د جهاد په پیل او غځېدلو کې د شهید امیر المؤمنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله فعالې او نه هېرېدونکې هڅې د هیچا هېرې نه دي او د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات او د ده له ټاکنې وروسته د مجاهدینو کامیابه رهبري، په هیواد کې د جهادي بهیر چټکتیا، په سیاسي ډګر کې په نړۍ کې د اسلامي امارت منل، د خوارجو او مغرضو کړیو پر وړاندې کلک درېدل، په هیواد کې د ننه د تکړه او ویښو افغانانو سره فعاله رابطه ساتل، په ډېرو حساسو شرایطو کې په لږو امکاناتو د یرغلګرو په وړاندې د نظامي جهاد ترڅنګ له نړۍ سره دیپلوماتیکې اړیکې را ژوندۍ کول، اسلامي امارت د پاڅون له نوم څخه د یوه بالقوه نظام په نوم په نړۍ کې مطرح کول هغه تاریخي نوښتونه وو، چې شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله یې د نړۍ په کچه د اسلام په تاریخ کې د لوی او ستر رهبر په نوم ولیکی؛ الله تعالی دې هغه په خپلو جنتونو او رحمتونو ونازوي.

بې له مبالغې دا ویلای شو چې شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله له مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وروسته د سیاسي اسلام او اسلامي حاکمیت مجدد و،چې الله تعالی یې رهبري پر افغانانو لورولې وه، لوی رب هغه دې د جنتونو په نازونو ونازوي.

موږ ته دا لازمه ده چې د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله جهادي لاره، جامع او پراخ فکر، سیاسي لیدلوری، فکري استقلال او ټول شموله طبیعت تعقیب کړو تر څو لاس ته راغلی اسلامي نظام په سمه توګه سمبال کړو او ساتنې ته یې لازم تدابیر ونیسو.

# اتهام بندی‌ها کاری را به جای نمی‌کشاند

تبصره - آژانس باختر

سران گروه هفت نشست سالانه شان را در شهر هیروشیما جاپان جائیکه اولین بمب اتومی امریکا را در سینه جا داد با صدور بیانیه یی پایان دادند.

این نشست بیشتر از تحولات اروپای شرقی در جنگ روسیه و اوکراین متاثر بود٬ با آنهم سران گروه جی -۷ روی پارۀ از مسایل دیگر جهانی به خصوص آن مسایل که بیشتر نیات ومنافع امریکا را پوشش داده است بحث کردند ودر اخیر همچون نشست های گذشته، بیانیه یی صادر کردند.

در بندهای از این بیانیه در باره افغانستان هم گفته های وجود دارد که با اتهام ها٬توصیه ها وسفارش هایی به آدرس امارت اسلامی در افغانستان به همراه است که بیشتر بی اساس و تکراری اند.

رهبران این هفت کشور جهان در بیانیه پایانی اجلاس شان٬ به تعبیر خود شان وضعیت افغانستان را از لحاظ انسانی و اقتصادی وخیم خوانده اند٬ از ادامه حضور گروه های هراس افگن در افغانستان اظهار نگرانی کرده اند و از امارت اسلامی خواسته اند به تعهدات خود در زمینه مبارزه با تروریزم پابند باشد و اطمینان دهند که خاک افغانستان برای تهدید یا حمله در برابر کشوری دیگری به کار نمیرود٬ گروه های تروریستی در افغانستان تأمین مالی نمیشوند٬ اقدامات تروریستی در این کشور صورت نمیگیرد وبه گروه های تروریستی پناه و آموزش داده نمیشود.

رهبران هفت کشور بزرگ صنعتی همچنان خواستار حکومت فراگیر در افغانستان شده و از حکومت سرپرست خواستاربهبود حقوق بشری شدند و تاکید داشته اند که امارت اسلامی باید به ایجاد حکومت فراگیر تمکین کند و برای مشارکت همه افغانان در قدرت، گفتگوی ملی برگزار نماید.

همچنان از امارت اسلامی خواسته شده است که به قطعنامه ۲٦۸۱ سال ۲۰۲۳ میلادی و منشور سازمان ملل متحد از جمله ماده هشت آن احترام گذاشته و از فعالیت‌های بدون محدودیت سازمان ملل در افغانستان اطمینان حاصل کنند.

اگر به متن ومحتوای این بیانیه موشگافی شود حرف تازه در آن دیده نمیشود٬ به جز از تکرار اتهام های بی مورد و بی اساس٬ فرضیه سازی ها٬ شایعه پراگنی وانحراف اذهان عامه از مسایل اساسی به مسایل حاشیه یی٬ چیزی دیگری در آن سراغ شده نمی تواند در حالی که امارت اسلامی قبلا در باره هر اتهام وضاحت داده است.

سران این گروه به زعم و تعبیر خودشان وضعیت انسانی در افغانستان را نگران کننده خوانده اند، در حالی که در وجود امنیت که امروز در افغانستان وجود دارد وضعیت زندگی در افغانستان بهتر از هر زمان دیگر است ومصونیت فردی وگروهی وجود دارد ومردم در سایه قانون زندگی خود را سپری میکنند و اگر حرف از وخیم شدن وضعیت اقتصادی مردم است این مشکل زاده راهکار دشمنانه شماری معین از کشور ها است که دارایی های ملی افغانستان را منجمد کرده اند٬ کمک های بشری را رنگ وبوی سیاسی داده اند٬ نهاد های جهانی را وا داشته اند که پروژه های عمرانی در افغانستان را متوقف کنند تا مردم در تنگنای اقتصادی قرار گیرند و به این ترتییب امارت اسلامی نزد مردم وزن ببازد واعتبار خود را از دست دهد در حالی که امارت اسلامی با راهکار شایسته اقتصادی قادر به مهار این توطیه شده است ونظام موجود توانسته است به سوی خود کفایی اقتصادی پیش رود .

حرف دیگر در نشست پایانی اجلاس گروه ۷ ٬ ادامه حضور گروه های هراس افگن در افغانستان است٬ حرف وادعای که اساس وبنیاد ندارد و در بیانیه سران گروه۷ هیچ سندی و مدرک هم ارائه نشده است٬ تنها برای توجیه حضور امریکا در منطقه و بستر سازی برای فعالیت های بعدی این کشورها٬ اتهامی مبنی بر موجودیت گروه های هراس افگن در افغانستان تکرار شده است که مایه واساس ندارد.

مورد دیگر در بیانیه سران این گروه٬ بحث خطر وتهدید از خاک افغانستان علیه کشور های دیگر است که این گفته ها نیز اتهامی بیش نیست و برای اثبات آن هیچ دلیل ومدرکی پیش نشده است٬ امارت اسلامی بار ها اعلام داشته است که این نظام مسئولیت های خود را در قبال همسایه ها٬ کشور های منطقه وفرا منطقه میداند٬ نیاز ندارد که دیگران در این خصوص توصیه کنند و راه٬ را نشان دهند٬ هیچ گروه هراس افگن در افغانستان حضور ندارد وهیچ گروهی از افغانستان تامین مالی نمیشود و آموزش نمی بیند٬ اگر سران گروه ۷ و یا کدام کشور دیگر در این خصوص حرف دارند مستند ومدلل مطرح کند٬ فرضیه سازی واتکا به اطلاعات ناقص نمی تواند حرف زبینده به رهبران کشور های باشد که شهرت بلندی در جهان دارند.

تاکید دیگر رهبران گروه۷٬ ایجاد حکومت فراگیر در افغانستان است٬ نمی دانیم تعریف این آقایان از حکومت فراگیر در افغانستان چیست؟ اگر هدف جابجایی مهره های سوخته ونمایندگان سفارت خانه در بدنه نظام باشد٬ این دیگر در نظام کنونی افغانستان جا ندارد. سران گروه جی ۷ همچنان بر تطبیق قطعنامه ۲٦۸۱ سال ۲۰۲۳ سازمان ملل تاکید داشته اند که ادامه کار سازمان ملل در افغانستان را بدون محدودیت مطالبه میکند.




امارت اسلامی همیشه از کار نهاد های بین المللی با توجه به رعایت مسایل شرعی وفرهنگ افغانی حمایت میکند وهیچگونه محدویت را در این خصوص وضع نکرده است.

خواست مردم افغانستان از سران گروه جی ۷ این است که حرکت دیکته گونه نداشته باشند٬ واقعیت ها را در افغانستان دنبال کنند ومطابق به آن راهکار تعین کنند٬ حرف بزنند وتصمیم بگیرند٬ اتهام بندی ها وفرضیه سازی ها کاری را به جای نمی کشاند که باید از آن دوری کرد.

حرف دیگر که میتواند مایه شرمساری برای کشور خاص باشد این است که نشست اخیر گروه ۷ در شهر هیروشیما برگزار شد٬ این شهر یکی از دوشهر های جاپان است که در سال ۱۹۴۵ با بمب های اتومی بر آنها حمله شد و در آن ۲۲۰ هزار نفر جان باختند٬ هیروشیما یک سند زنده از یک جنایت زننده است که بشر هرگز آن را فراموش نمیکند٬ آنانی که عامل این جنایت بودند باید اعتراف به شرمساری شان کنند ودیگر در پی تعرض به انسان های دیگر دور از جغرافیای شان نباشند.

# د تعلیم او تعلّم اصول او لارښووني

**مولوي کریم الله / لومړی برخه**

انساني ژوند د مځکې پر مخ په جهالت او تاریکۍ کې نه دی راټوکېدلی، بلکې د علم او پوهې په رڼا کې یې خپل لومړي ګامونه راخیستي دي، او په لومړي قدم کې یې د علم او پوهې تاج په سر شوی دی، انساني ژوند د څښتن تعالی د «عَلَّم آدم الأَسماء کلّها» د هدایاتو په رڼا کې خپل سفر پیل کړی دی، د علم او پوهې دغه ستره سلسله له پیړیوراهیسې روانه ده، چې آن تر ټولو وروسته یې زموږ آخري پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د «اقرأ باسم ربّک» پیغام راوړی دی، په دې سپېڅلي پیغام سره یې د مځکې پر مخ انسانیت ته د علم باغ او بڼ یو ځل بیا تازه کړی دی، د علم او پوهې د تیتې ډېوې رڼا ته یې نوې روح او ساه وربښلې ده.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې نړۍ ته د الله جل جلاله وروستی پیغام وړاندې کړ، نو هر لوري ته د یوه سرتاسري انقلاب او اوښتون انګازې خپرې شوې، د جهالت د تارکیو غوړېدلې توره لمن ټوله شوه، د هدایت د نور سپین سهار یې ښکاره کړ، د علم په فیضان یې ټول عالَم منور کړل شو، ځکه د الله جل جلالُه له لوري نازل شوی کتاب قرآنکریم د ټولو علومو او فنونو د یوې سترې مجموعې حیثیت لرونکی و او دی، د دې کتاب په معناګانو، مفاهیمو او مطالبو کې غوپه شوي د علم او حکمت لارویان د هر دور د قدیمو او جدیدو علومو د جوهر سره اشنا دي، او په هره زمانه کې د دې سپېڅلي کتاب له محتوا ډول ډول جدید علوم او فنون اخیستل شوي او پنځول شوي دي.

د قرانکریم څخه چې لسګونه علوم او فنون ظاهراً سرچینه اخلي، او د سلګونو علومو او فنونو ضمناً زخیره ده، د دې تر څنګ د علومو د اکتساب د ادبونو او د تعلیم و تعلّم د تفصیلي لارښوونو واقعات او بیانونه هم په کې شتون لري، او ورسره په سلګونو جملو کې یې د تعلیم او تعلّم ارزښت او اړتیا ته اشاره شوې ده، لکه څرنګه چې په قرآنکریم کې الله جل جلاله د بېلابېلو ځمکنیو او سمندري سفرونو د واقعاتو یادونه کړې ده، ترڅو په هغه واقعاتو سره د فکر او بصیرت خاوندان نصیحت او عبرت ترلاسه کړي، ترڅنګ یې په قرانکریم کې داسې واقعات هم ذکر شوی، چې په ځانګړې توګه یې د تعلیم او تعلَم مبادیات او لارښوونې په تفصیل سره روښانه کړې وي.



د قرآنکریم د پنځلسمې سپارې سورت کهف په منځ کې د حضرت موسی علیه السلام او حضرت خضر علیه السلام قصه په تفصیل سره ذکر شوې ده، د دواړو پیغمبرانو علیهما السلام قصه د یوه علمي سفر ډول لري، په یاده قصه کې د تعلیم او تعلّم متعدد اصول، لارښووني او ګټور هدایات مضمر دي، د تعلیم او تعلّم سره تړاوو لرونکو کسانو لپاره د تعلیم او تعلّم په مرحله کې د هغه اصولو، لارښوونو او هدایاتو عملي کول اړین او ضروري دي، د دواړو پیغمبرانو علیهما السلام دغه قصه د پیل څخه تر پایه د علم او پوهې د تر لاسه کوونکو لپاره د لارې مشال دی، هر طالب العلم یې باید د علم ترلاسه کولو پر وخت په لاس کې ولري او شیبه په شیبه یې پر ځان عملي کوي.

انسان چې د علم او معرفت په بې پایه سمندر کې هر څومره غوټې ووهي، خو د دې سمندر وروستي حد ته نه شي رسېدلی، بلکې د علم طلب او تنده یې نور هم تانده کېږي او دا یو طبیعي اصل دی، چې د علم له معنوي هیکل څخه د استغنی سیوری لرې شوی، د دې لپاره د حضرت موسی علیه السلام قصه یوه ښه بېلګه ده، چې الله جل جلاله پر حضرت موسی علیه السلام د نبوت علم لورولی و، نبوت یو داسې علم دی، چې تر دې علم اعلی او پورته بل هیڅ علم کېدلی نه شي، خو بیا هم د حضرت موسی علیه السلام هیله او آرزو وه، چې نور هم د علم او عرفان په چینه خپله تنده ماتې کړي، تفسیر طبري د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه حضرت موسی علیه السلام دغه قیصه رانقل کړې ده، چې حضرت موسی علیه السلام ولې او څنګه د نور علم د زدکړې لاره نیولې وه...؟

**دوام لري...**

# د اسلامي امارت د غونډو حق دې نور نړیوال نه خوري!

**پامیر وطنوال**

یو شمېر افغانان وایي، د اسلامي امارت حکومت استازیو ته باید د ملګرو ملتونو له خوا په جوړېدونکو غونډو کې دې د ګډون حق ورکړل شي.

دوی زیاتوي، د اسلامي امارت د حکومت په راتګ سره پوره امن راغلی او نړیوال دې نور له بهانې کولو لاس په سر شي او له حاکم حکومت سره دې د میرې مور له چلند کولو لاس واخلي.

اکرام الله او الهام وایي، نړیوال دې د افغانانو حقونو ته ژمن شي؛ ځکه اوس چې په افغانستان کې کوم حکومت حاکم دی په هره غونډه کې باید د ګډون بلنه ورکړل شي.

د دوی په وینا هره غونډه کې چې د افغانستان مسایل مطرح کېږي باید د حاکم حکومت استازي یې برخه وال وي او که داسې نه وي هره غونډه، چې د افغانستان په اړه کېږي هغه به هېڅ نتیجه نه ورکوي.

اکرام الله وایي:»اوس د اسلامي امارت حکومت حاکم دی، نړیوال چې د افغانستان په اړه هره غونډه کوي باید داسلامي امارت غړو ته بلنه ورکړي او که داسې نه وي هېڅ پایله دغه شان غونډې نه لري. مسایل په دغه شان غونډو کې د افغانستان مطرح کېږي خو د افغانانو استازی په کې نه وي؛ نو نړیوال څه پوهېږي، چې افغانان کومې ستونزې لري او له کومو مشکلاتو سره لاس او ګرېوان دي. مخکې امنیت نه و اوس خو پوره امنیت راغلی، نړیوال دې له خپلې سر زورۍ تېر شي او د حاکم حکومت غړو سره دې تعامل وکړي.»

الهام زیاتوي:» نړیوال هسې بهانې کوي، افغانستان لومړیتوب لري په هغه غونډو کې چې د افغانستان په اړه جوړېږي، نور څوک د افغانانو استازولي نه شي کولای، د ګاونډیو هېوادونو مشران د افغانانو په غونډه کې د افغانانو استازیتوب کوي، چې دا هېڅ افغان ته د منلو نه ده.اوس موږ مستقل حکومت لرو، هره پرېکړه یې افغانانو ته د منلو ده. مخکې به جګړې وې او دوامداره وژنې او چاودنې به وې اوس چې امنیت راغلی باید نړیوال زموږ د



حکومت حق نور ضایع نه کړي.»

د افغانستان په تړاو چې په اوس وخت کې هره غونډه جوړېږي د حاکم حکومت غړو ته بلنه نه ورکول کېږي او په اړه یې د ګاونډیو هېوادونو چارواکي بې ځایه څرګندونې کوي، چې وخت نا وخت د ټولنیزو رسنیو کاروونکو سربېره د افغانانو له عکس العمل سره مخ کېږي.

د یکشنبې په ورځ د کورنیو چارو سرپرست وزیر سراج‌الدین حقاني د افغانستان لپاره د ملګروملتونو له ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا سره په لیدنه کې غوښتنه کړې چې په وروستیو څه کم دوه کلونو کې په افغانستان کې امنیت د پام وړ ښه شوی او د اسلامي امارت استازیو ته باید د ملګرو ملتونو لەخوا په جوړېدونکو غونډو کې د ګډون حق ورکړل شي. یاد وزارت ویلي، چې مېرمن اوتونبایووا هم منلې چې په دې وروستیو کې امنیت ډېر ښه شوی او له لیرې سیمو مرکزونوته د خلکو تګ راتګ زیات شوی.

نوموړې همدارنګه ژمنه کړې، چې د اختلافاتو سره سره به په مختلفو برخو کې له افغانستان سره مرستو ته دوام ورکړي.





**- ولادیمیر پوتین :**

لویدیځ دا خبره هیره کړې چې په دویمه نړۍوالە جګړه کې نازیانو ته چاته ماتې ورکړې ده ؟

**- چیلک افګن :**

نو هاغه ګرجي استالین به و کنه ، څه اوس له موږ نه د تاریخ امتحان اخلئ !

***

- شامپوی آرگان بهترین محصول گیاهی :

**- چیلک افگن :**

اگر استعمال این شامپو عام شود ، در کل کشور به ذره بین هم یک مرد ریش سفید پیدا نخواهد شد !

زنها خو بیازو «سیاه سر» اند !!

***

**- وزیر خارجه آلمان :**

در یک کنفرانس خبری مشترک با همتای چینی خود خطاب به او هشدار داده گفت : «بی طرفی» در جنگ اوکراین به منزله جانبداری از روسیه است.

**- چیلک پور :**

مشکل است که تیوری سرمایه داری در نظام کارگری جای پای باز کند !

***

**- بلینکن:**

آمریکا و متحدانش آماده رفع تمام کمبودهای اوکراین در میدان جنگ هستند .

**- چیلک باز :**

آهسته که اگر پوتین ازی گپ تان خبر شد ، باور کو که عوض یک جفتک ، دو جفتک و سه جفتک میزنه !!!

***

**- سازمان هواشناسی جهانی:**

میانگین دمای هوای جهانی در پنج سال آینده به دلیل افزایش گازهای گلخانه‌ای ناشی از فعالیت‌های انسانی و پدیده‌ی طبیعی ال‌نینو به بالاترین سطح خود خواهد رسید.

**- چیلک پرتاب :**

و این گازهای گلخانه یی هم زاده زرادخانه های کشورهایی اند که بیشتر از دیگران از حقوق بشر و سلامتی محیط زیست و .... بوق می‌زنند !!!

یعنی که دروغهای شاخدار !

***

**- وی ، او ای:**

سفر رئیس جمهوری آمریکا به ژاپن برای شرکت در نشست سران گروه هفت

**- چیلک پرتاب :**

شاید برای تجلیل از سالگرد بمباران اتومی هیروشیما و ناکازاکی رفته باشد !!!

***

- یک شرکت کمدی در چین به دلیل شوخی با ارتش این کشور و اشاره غیرمستقیم به گفته‌های شی جین‌پینگ رئیس جمهوری این کشور، مبلغ ۱۴.۷ میلیون یوان (نزدیک به دو میلیون یورو) جریمه شد.

**چیلک :**

خوب شد ، - بازی ، بازی ، به ریش بابه هم بازی !

***

**- زلنسکی :**

شهر باخموت به تصرف عساکر روسي درنیآمده !

**_ چیلک پرتاب :**

اگر به راستی تصرررررف نشده باشه ، خی دیگه بیا که روز جمه یک چکر بریم اونجه . کفر خو نمیشه !

***

- اولین بانوی فضانورد عربستان وارد ایستگاه بین‌المللی فضایی شد

**- چیلک پرتاب :**

کدام محرم هم کتیش رفته ، یا اموطو یکه و خالی رفته ؟؟؟!!!

## بريالی شهيد «شېرشاه سوري»

عبدالشکوررشاد

چې پر کوټ د کالنجر خپله سپاه
خیژوله پښتانه غازي شېرشاه
رژېدلې ککرۍ د ژوبله ورو
په ځوانیو سرېده د مرګي خواه
بهېدلې خپلې وينې د جګړنو
د مېړانې غبږ ته وړه بري پناه
نژدې وړ له پښتنو غازيانو سوبه
چې يې اور باروت خانې واخيست ناګاه
ډېرې هيلې د زړو پاتې شوې نيمګړې
ډېرې برندې ځوانۍ شولې نيمه خواه
ډېر مېړونه پکې وسول د غازيانو
هاله وې د ننګ پټن مکوټ شېرشاه
دروړ کړی مې دی سر دا ستا په مينه
د جهان د پادشاهانو پادشاه!
څو مې رغ د سوبې نه دی تر غوږ شوی
په رحمت سره مې تېنګه لره ساه
لمسول يې پښتانه بسمل پوځونه:
نه ده کورټ د نامیندۍ د رب درګاه
ننګيالو! لکه زمري ورځئ پر تورو
دی بری په يقين «نصر من الله»
وينې راغلې پر ايشناو پښتنو مټ کړ
په يوهي رغل يې کا غليم تباه
چې خبر د سوبې راغی تر شېرشاهه
له ښادۍ وربانديې تنګه شوه بارګاه
وې: غازيانو! مبارکه مو دا سوبه
پر حالت د زکندن دی خدای ګواه
چې غالب له دې دنيا ځمه مسعود يم
نور ارمان مې پر دنيا نشته خوشنود يم

## مبارک باد آزادی

مبارک گشته ناتو چون فراری
مجاهد کرده غیرت بی شماری
سر افگنده چو ناتو در جهان شد
نمانده بر تجاوز گر وقاری
***
پس از هر شب خداجان روز کرده
محبت را به ما آموز کرده
محمد با خدا پشت و پناهش
مجاهد را چون آن پیروز کرده
***
گذشته فصل غم، شادی رسیده
زمان صلح و آبادی رسیده
بیا ای هموطن با هم بخندیم
که در کشور چو آزادی رسیده



# د اخلاص سورت فضايل

خلورمه برخه / خالد مشعل

۲۳ ــ عَنْ عائشة رَضِيَ اللهُ عنْهَا أنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَرَاَ بَعْدَ صَلوة الْجُمْعَة (قُلْ هْوَ و قُلْ اَعُوْذُ و قُلْ اَعُوْذُ ب) سَبْعَ مَرَّات اَعَاذَهُ اللهُ بِهَا مِنَ السُّوءِ اِلَى الْجُمْعَة الْأُخْرى.
(أخرجه ابن السنى فى عمل اليوم والليلة: ۱ / ۱۴۵)

ژباړه: له حضرت عايشې رضي الله عنها نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: څوک چې د جُمعې له لمانځه وروسته اوه اوه ځلې (قُلْ هْوَ ، قُلْ اَعُوْذُ او قُلْ اَعُوْذُ) ولولي؛ نو تر بلې جُمعې به يې الله جل جلاله له بديو وساتي.

۲۴ ــ عَنْ عائشة رَضِيَ اللهُ عنْهَا أنَ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللَهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَرَاَ اذ سَلَّمَ الاَمَامَ يَوْمَ الْجُمعَة قَبْلَ آنْ يُثَنِّىَ رجْلَيْهَ (فَاتحَةَ الْكتَابَ وقُلْ هُوَ و قُلْ اَعُوْذُ و قُلْ اَعُوْذُ) سَبْعًا سَبْعًا غُفرلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبه وَ مَا تَاَخَّرَ وَ أُعْطىَ منَ الْاَجْرِ بِعَدَدِ كُلِ مَنْ امَنَ باللَهِ وَالْيَومِ الْآخِرِ.
(الخصال المكفرة للذنوب المتقدمة والمتاخرة لابن حجر عسقلانى رحمه الله، ص: ۹۸)

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها روايت دی، چې نبي عليه السلام وويل: کوم کس چې د جُمعې په ورځ د امام له سلام ګرځولو نه وروسته لا پښې نه وي راغونډې کړې (هماغسې د لمانځه په څېر ناست وي) او اوه اوه ځلې (سورة الفاتحه ، قُلْ هْوَ ، قُلْ اَعُوْذُ او قُلْ اَعُوْذُ) ولولي؛ نو ده ته د مخکينيو او وروستنيو ګناهونو ښښنه وشي او دومره اجر به ورکړل شي، څومره خلک چې په الله تعالی او د قيامت په ورځ باندې ايمان لري.

۲۵ ــ عَنْ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما قَالَ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ مَنْ قَرَاَ: قُلْ هُوَ دُبر كُلَّ صَلَاة مَكْتُوْبَة عَشْرَ مَرَّات أَوْجَبَ اللهُ لَهُ رضْوَانَهُ وَمَغْفرَتَهُ.
(كنز العمال، كتاب الاذكار: ۱ / ۲۹۸)

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: څوک چې له هر فرض لمانځه وروسته لس ځلې (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدْ) ولولي؛ نو الله تعالی به ترې خوښ شي او ښښنه به ورته وکړي.

۲۶ ــ وعن اَيْفَعْ بن عبدالكلامى قال: قال رَجُل يا رسول الله اَىُّ سورة القرآن اعظم قال: (قُلْ هُوَ) قال: فاىُّ اية فى القرآن اعظم قال: (اية الكرسىً: قال: فاىُّ اية يا نبىَّ الله تُحبُّ آنْ تُصيبك واُمَّتك، قال خاتمة سورة البقرة فانها من خزائن رحمة الله تعالى من تحت عَرْشه اعطاهَا هذه الأُمَّة لم تَتْرُك خَيْراً من خير الدُّنيا والاخرة اِلاَّ اشْتَمَلَتْ عليه.
(رواه مشكوة المصابيحح، كتاب فضائل القرآن: (۲۰۵/۱، ۲۰۶)

ژباړه: حضرت ايفع بن عبدالكلامي وايي: يو کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! د قرآن کريم تر ټولو ستر سورت کوم دی؟ نبي عليه السلام وويل: (قُلْ هُوْ). هغه بيا وويل: په قرآن کريم کې تر ټولو اوچت آيت کوم دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: (اية الكرسی: هغه وويل: کوم آيت ته خوښوې، چې تا او ستا امت ته ورسيږي؟ نبي عليه السلام وويل: د بقرې سورت، اخرۍ برخه، بې شکه هغه وروستي آيتونه د الله جل جلاله د رحمت له خزانو څخه له عرش نه لاندې رانازل شوي او دې امت ته ورکړل شوي او د دنيا او اخرت کاميابي او خير په کې موجود دی.



۲۷ ــ عن ابن عمر قال: من قرأ (قل هوَ) عشية عرفة ألف مرّة اعطاه الله عزوجل ما سأل.
(كنز العمال، كتاب الاذكار: ۱ / ۲۹۹)

ژباړه: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي: څوک چې ماښام (د لمر له ډوبېدو وروسته) زر ځله سورة اخلاص ولولي؛ نو الله جل جلاله به هغه ته هغه څه ورکړي، چې دی يې غواړي.

۲۸ ــ عن تميم الدارى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال: قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: من قال (لا اله الا الله واحداً اَحداً صمداً لم يتخذ صاحبة ولا ولداً ولم يكن له كفواً احد) عشر مرات كتب الله له اربعين مائة الف حسنة.
(رواه ابن كثير: ۴ / ۵۶۸)

ژباړه: له حضرت تميم داري رضي الله عنه نه روايت دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: چا چې لس ځلې (لا اله الا الله واحداً اَحداً صمداً لم يتخذ صاحبة ولا ولدا ولم يكن له كفواً احد) ولوست؛ نو الله جل جلاله به څلوېښت لکه نيکۍ ورته وليکي.

۲۹ ــ عن انس بن مالک رضي اللهُ عَنْهُ يقول: كنا مع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بتبوک فطلعت الشمس بضياء وشعاع و نور لم نرها طلعت فيما مضى بمثله فأتى جبريل الى النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فقال: يا جبريل مالى ارى الشمس طلعت بضياء وشعاع و نور لم نرها طلعت فيما مضى؟ قال: ان ذلک معاوية بن الليثى مات بالمدينة اليوم فبعث الله اليه سبعين الف ملک يصلون عليه قال: و فيم ذلک؟ قال كان يكثر قراءة (قُلْ هُوَ) فى اليل و فى النهار و فى ممشاه و قيامه وقعوده فهل لک يا رسول الله ان اقبض الارض فتصلى عليه، قال نعم فصلى عليه.
(رواه تفسير ابن كثير: ۴ / ۵۶۹، مسند ابى يعلى: ۷ / ۲۵۶، دلائل النبوة: ۵ / ۲۴۵)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی، وايي: مونږ په تبوک کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو، يوه ورځ لمر راوخوت او داسې روښنايي، وړانګې او رڼا يې وه چې مخکې مونږ کله نه وه ليدلې. (رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د دغه نور او روښنايي په ليدو تعجب کاو) دې کې ناڅاپه جبريل امين عليه السلام تشريف راوړ، نبي عليه السلام وپوښتل: څه لامل دی چې لمر له دغسې نور او روښنايي سره راختلی؟ هغه (جبرائيل عليه السلام) وويل: د دې سبب د حضرت معاويه ابن معاويه الليثي وفات دی (په مدينه منوره کې) چې الله سبحانه و تعالی اويا زره پريښتې د هغه جنازې ته ورلېږلې. نبي عليه السلام وپوښتل: اې جبرائيل عليه السلام، د دې فضليت او کرامت سبب څه دی؟ حضرت جبرائيل عليه السلام وويل: د دې لامل دا دی، چې هغه به (قُلْ هُوَ) ډېر لوستلو، د شپې، د ورځې، په ولاړې، په رواني او په ناسته! اې رسول الله صلی الله عليه وسلم! ته غواړې چې ورشې او لمونځ وربانديې اداء کړې؟ ويې وويل: هو! نو لمونځ يې پرې اداء کړ.

# د اسلامي ثقافت ارزښتونه

مولوي نورالحق مظهري

لومړی ارزښت:
په اسلامي ثقافت باندې د انسان ساتونکی او فعال عقل جوړيږي؛ اسلام د انسان د عقل پر حفاظت او ساتنې باندې ډېر ټينګار کړی دی، عقل يې داسې اصل او عنصر بللی دی چې په در لودلو يې انسان د خرافاتو، اوهامو، درواغو او منفي سادګيو څخه ساتل کېدلای سي او انسان يې پدې باندی امر کړی دی چې د هر هغه شي څخه ځان وساتي چې عقل وربانديې زائليږي د بېلګې په ډول مخدرات او مسکرات يې حرام کړيدي کوم چې عقل ته زيان رسوي او د صحيح ادراک څخه د عقل مخنيوی کوي.

لکه څنګه چې الله پاک عقل ته حيثيت د يو ترازو ورکړی دی چې کارونه په تلې، د ښه او بد تشخيص کوي او مخکې تر اعتقاد د هغه ښه والی او يا بدوالی ځان ته معلوموي. الله پاک فرمايي: أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَى إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ.[الرعد۱۹] ژباړه: آيا هغه څوک چې پدې باندې پوهيږي چې هغه شی چې ستا رب تا ته نازل کړی دی حق دی داسي دی لکه هغه څوک چې ړوند دی او نه پوهيږي؟ يقينا چې يواځې د عقلونو خاوندان وعظ قبلوي.
مفسرينو ليکلي دي چې دغه آيت د حضرت حمزه رضی الله عنه او ابوجهل په باره کې نازل سو، حضرت حمزه رضي الله عنه چې د سالم عقل خاوند وو د قرآن حقانيت يې درک کړ او ايمان يې راوړ خو ابوجهل چې د سالم عقل څخه محروم وو د قرآن حقانيت يې درک نکړ او ايمان يې را نه وړ.
د درس ويلو او تحصيل په دوره کې د ديني علومو سره رابطه د انسان لپاره ډېره مهمه ده پدې معنی سره چې محصل بايد په هره تحصيلي دوره کې د ديني علومو زدکړې ته ډېره پاملرنه وکړي تر څو د هر مضمون او هر پوهنځي څخه چې فارغ کيږي د ديني او اسلامي روحيې سره فارغ سي.
زموږ په زمانه کې ډېری محصلين چې د فراغت وروسته بې دينۍ ته مخه کوي يا خپلې دندې ته د يوه تجارتي بازار په سترګه ګوري لوی لامل يې دغه دی چې د زده کړې په دوران کې يې ځان په ديني عقيده باندې نه وي سمبال کړی ځکه نو د ټولنې په نسبت خپل مسئوليت هم نه پېژني.
دا چې زموږ په زمانه کې ډېری ډاکټر صاحبان، انجينران، سياست پوهان او د عصري علومو استادان اسلامي اخلاقو او لمانځه ته ژمن ندي علت يې دغه دی چې د زده کړې په وخت کې يې پر ديني مضامينو باندې کوښښ ندی کړی نو ځکه مسلماني ورته يو ډول شاته تګ او انحطاط معلوميږي او ځان ته د يو مسلمان ډاکټر او انجينر په سترګه نه ګوري او د خپلو کارونو په ښه والي او بد والي کې ديني اصول په پام کې نه نيسي.

# د نشه يي توکو په وړاندې جدي مبارزه روانه ده

**شاه محمود درویش**

د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه په ټولیزه توګه په هیواد کې د نیشه یې توکو کښت، قاچاق ، پروسس او ترافیک بند کړی دی، ځکه نیشه یي توکي په حقیقت کې د یوخاموشه طوفان په څیر ټولنه له ګواښ سره مخامخ کوي او دا هغه ناوړه پدیده ده چې په تدریج سره او بیا په ځانګړي توګه د ځوان نسل روغتیا او سلامتیا زیانمنوي او خوږ ژوند یې له اوږد مهاله رنځ ، ناهیلي او مرګوني ګواښ سره مخامخوي، بنآ ددغې منفورې پدیدې په وړاندې د اسلامی امارت امنیتي ځواکونه تل نه ستړې کیدونکې مبارزه کوي او په خپله مبارزه کې هم تل هوډمن دي، د بیلګې په توګه په دې وروستیو کې د دله ییزو خپرندویه سرچینو په حواله د کورنیو چارو وزارت دمسوولینو له قوله ویل شوي، چې د کوکنارو کښتونو د اړولو اوله نیشه يي توکو سره د مبارزې پولیسو په ۹ ولايتونو کې ۲۱۸۳ جریبه د کوکنارو کښتونه له منځه وړي دي، ددغه وزارت دمسوولینو د څرګندونو له مخې ۷۷۷ جریبه د فاریاب ولایت په پښتون کوټ، بلچراغ، المار، کوهستان او خیبر په ولسوالیو کې، ۴۰۰ جریبه په پکتیا، ۲۹۲ جریبه په ننګرهار، ۱۲۷ جریبه په تخار، ۳۸ جریبه په کونړ، ۱۳ جریبه په بغلان، ۱۱ جریبه په بلخ او ۵ جریبه ځمکه د غور ولایت په پسابند ولسوالی کې له کوکنارو پاکه شوې ده، په کابل ولایت کې هم د کوکنارو کروندې ویجاړې شوي دي، البته څو ورځې وړاندې هم د نیشه یي توکو سره د مبارزې پولیسو په ۶ ولایتونو کې ۸۰۰ جریبه کوکنار له منځه وړي وو.

د اسلامی امارت ویاند هم ویلي چې په هیواد کې د نیشه يي توکو دله منځه وړلو لپاره د نیشه یي توکو دکښت او قاچاق پرضد جدي مبارزه روانه ده ، د نیشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي لپاره هم هڅې روانې دي او د ۲۰۲۱ ز، کال په اګست میاشت کې واک ته له بیا رسیدو وروسته اسلامي امارت دنیشه یي توکو یو زیات شمیر قاچاق وړونکي نیولي اوبندیان دي، نوموړي ګاونډیو او دسیمې هیوادونو ته داډ ورکړی چې له افغانستان څخه د نیشه یي توکو د قاچاق په اړه اندیښنه ونه لري، بلکې له نیشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې له دولت او خلکو سره همکاري اود کوکنارو دبدیل کښت په موندلو کې مرسته وکړي.

له شک پرته چې د نیشه يي توکو پروړاندې د امنیتي ځواکونو مبارزه او د کوکنارو د کښتونو له منځه وړل، چې پورته په بیلګه ییز ډول ترینه یادونه وشوه د قدر وړ دي خدای (ج) دې لاهم دوئ ته توفیق ورکړي چې په ټوله کې د نیشه یي توکو قاچاقبران، پلورونکي او کاروونکي د هیواد په هره سیمه او ښار کې چې شتون لري دوئ و نیسي او دقانون منګولو ته یې وسپاري ترڅو له امله یې د ټولنې نظم او ثبات خوندي کړای شي.

د یادونې وړه ده چې ګاونډي او دسیمې هیوادونه باید له اسلامي امارت او خلکو سره د کوکنارو دبدیل کښت په برخه کې لازمه مرسته او همکاري وکړي، همداراز د اسلامي امارت مسوول ارګانونه هم باید د نیشه یي توکو دکښت د بندیدو ترڅنګ دهغې بدیل کښت ته ځانګړې پاملرنه وکړي او ترڅنګ یې په هیواد کې د کرنیز بهیر پراختیا هم یولومړیتوب دی ځکه چې په ټولیزه توګه دهیواد په سلو کې کابو اتیا سلنه خلک دکرنې ، مالداري او بڼوالۍ په چارو بوخت دي نوپه کارهم همداده چې ددغه بهیر ودې اوپراختیا ته باید ډیره پاملرنه وشي او د افغانستان اسلامي امارت د مسوولو ارګانونو له لوری باید دهیواد په مرکز او ولایتونوکې قدرمن بزګرانو ته دهراړخیزو آسانتیاوو په برابرولو سربیره په مناسبو وختونو کې داصلاح شویو تخمونو او کیمیاوی سرې مرستې هم وکړي ترهغه چې له امله یې دوئ له خپلې کرکېلې څخه پریمانه حاصلات ، غلې او دانې ترلاسه کړي چې له امله یې د دوئ د اړتیاوو د پوره کېدلو ترڅنګ په هیواد کې هم غلې دانې پریمانه شي ، بناً د اسلامي امارت د لومړیتوبونو پراساس اړینه ده چې په ټولیزه توګه د هیواد په ګوټ ګوټ کې پر کروندګرو په مناسبو وختونو کې اصلاح شوي تخمونه ، ډول ډول نیالګي ، کیمیاوي سرې اولازم وسایل د اړوندو مسئولو مراجعو له لورې وویشل شي ، ځکه چې له قدرمنو بزګرانو سره هررازمرسته ددې سبب کیږي چې هغوئ په خپلو کروندوکې دحرام کښت یعنې د کوکنارو د کرکیلې پرځای حلال کښت ته مخه وکړي ، البته لازمه هم ده چې قدرمن بزګران باید په آګاهانه توګه دیته وهڅول شي چې په خپلو مځکو کې د نیشه یې توکو دکرکیلې پرځای حلال کښت ته مخه وکړي ، ځکه چې نیشه یې توکې د یوخاموشه طوفان په څیر ټولنه له ګواښ سره مخامخوي اودا واقعاً هغه ناوړه پدیده ده چې په تدریج سره او بیا په ځانګړي توګه د ځوان نسل روغتیا او سلامتیا زیانمنوي او خوږ ژوند یې له اوږد مهاله رنځ ، ناهیلی او مرګونی ګواښ سره مخامخوي.

البته دې ټکې ته مو باید پام وي سره له دی چې مخدره توکې یوه ناوړه پدیده ده نو ددغې ناوړی پدیدی کرکیلی ، پروسس او قاچاق هیوادوالو ته سره له دې چې امنیتی ننګونی یې رامنځ ته کړی ددی ترڅنګ زمونږ ګڼ شیرهیوادوال هم پردغی کرغیړنی پدیدی روږدی شویدي چې د امنیتی ننګونو ترڅنګ دایوه بله ستونزه ده ځکه چې په مخدره توکو روږدی کسان سربیره پردی چې د سالم کار او روزګار پروړاندی خپل مقاومت او ځواکمنتیا له لاسه ورکوی ترڅنګ یی خپلی کورنی ته یو سرخوږی هم را منځته کوی او بالاخره پرمخدره توکو روږدی کسان په خپلی کورنی سربیره پرټولنه هم یو بار ګڼل کیږي او په بیلا بیلو برخوکې د ټولنې عامه نظم ګډوډ اوبې ثباته کوي، نوپردې اساس ددغې منفورې پدیدې پروړاندې د اسلامي امارت د امنیتي ځواکونو ترڅنګ د افغان ولس رښتینه مبارزه هم ډیره اړینه ده .



# افغان اعلانات

**دعوت به داوطلبی**

موضوع:اعلان داوطلبی پروژه اعمار یک باب تحویلخانه ریاست حوزه پروان برشنا.

د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(اعمار یک باب تحویلخانه ریاست حوزه پروان برشنا دارای کود نمبر Rebid-۰۰٦-NCB/W/۱٤۰۱/DABS اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد های ساختمان بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یک شنبه تاریخ ۲۸/ جوزا /۱٤۰۲ به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پزیرش نمیباشد .

۱--تضمین آفر : مبلغ۳۳۰,۰۰۰ سه صد و سی هزار افغانی میباشد.

۲- جلسه قبل از داوطلبی مورخ ۱۵/جوزا/۱٤۰۲ به روز دو شنبه ریاست تدارکات,منزل ششم برگزار میگردد.

۳- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز یک شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۲۸/ جوزا /۱٤۰۲ برگزار میگردد.

٤-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تدارکات.

٥-آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۲۰۲٥۱۳٦۷۷

آدرس الکترونیکی : /Akbar.kamandi@dabs.af abdullah.afghanzoy@dabs.af

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

محترم سید بلال فرزند سید سازالدین دارنده جواز شماره ( ۱۹۴۵ ) مورخ ۱۱/ ۹/ ۱۳۹۹ متصدی رهنمای معاملات سید بلال مودودی واقع دهن حمام بی بی مهرو ) ناحیه ۱۰ شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب - وزارت عدلیه اطلاع دهند.۹۰۰

***

**اطلاعیه به اجاره دهی**

ریاست عمومی اجاره دهی و سرمایه گذاری وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری موازی (۱۸۲.۲۳) جریب زمین درجه ۲ ملکیت دولتی واقع ( ساحه خیر توشان ولسوالی انجیل ولایت هرات ) را تثبیت نموده و آماده اجاره دهی به منظور هینگ ، زعفران ،گلخانه و فارم زراعتی مطابق طرزالعمل استفاده موثر زمین و املاک دولتی میباشد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه مزایده جایدادهای فوق را داشته باشند ، میتوانند بعد از تاریخ نشر این اعلان الی مدت ۱۰ یوم درخواستی های شان را به این ریاست واقع تعمیر پامیر وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری ، منزل اول تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. ۸۹۶

***

**کرایی کور اړتیا ته خبر تیا**

د کابل ښار پوهنې ریاست د خپلو زدکوونکو د ۱۴۰۲ کال د تدریسی لپاره په (لسمه) حوزه کې د ( ۲۳ ) خونو کور د مسعود سعد منځنې ښوونځي لپاره اړتیا لري ، هغه کسان چې د یاد ښوونځي په سیمه کې دا ډول تعمیر ولري او وغواړي چې په کرایه قرار داد وکړي، خپل غوښتنلیکونه دې له خپریدو نیټې څخه تر ۲۱ ورځو پورې د کابل ښار پوهنې ریاست د تدارکاتو لوی مدیریت ته د څلورمی کارتې په سرای غزني سیمه کې وسپاري او شرطنامه دې وګوري. ۹۰۶

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه مکتوب به وزارت صحت عامه منابع بشری به اسم ساجده بنت غلام صدیق مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط میباشد.۹۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ویزه اقامت کشور ترکیه به اسم شایسته سلطانی بنت شاه مراد مفقود گردیده اعتبار ندارد.۸۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی به اسم هدایت الله فرزند حاجی محمد عزیز و محترمه بی بی فایزه بنت نسیم خان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۹۰۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفائی شاروالی کابل ناحیه ۶ به اسم غلام حسین عبدالحق فرزند محب علی مفقود گردیده اعتبار ندارد.۸۹۷

***

**اطلاعیه داوطلبی**

وزارت ترانسپورت وهوانوردی مساحت ۴ متر مربع جای واقع جوار گمرک میدان هوائی بین المللی کابل را جهت فعالیت ترانسپورت باربری به کرایه میدهد.

اشخاصیکه خواهش به کرایه گرفتن مساحت فوق را به طور مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ،ریاست مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات بسپارند ، شرطنامه برای متقاضیان در بدل مبلغ ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.۹۰۲

***

**اطلاعیه لیلام**

به تعداد (۱۴۵۷) حلقه تایر باب مختلف النوع داغمه وسایط.

به تعداد (۵۳۸) عدد بطری جات با ولتاژ های مختلف النوع داغمه وسایط ریاست تنظیف ، تحت نظر هیئات موظف به بلندترین قیمت به نفع دولت در معرض لیلام قرار داده میشود ،شرکت ها ،سازمانها و اشخاص انفرادی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند ،میتوانند به تاریخ ۱۴۰۲/۳/۱۴ ساعت (۹:۰۰) بجه قبل از ظهر به ریاست تنظیف شاروالی کابل واقع چهار راهی سر سبزی مقابل هوتل شام پاریس مربوط ناحیه چهارم تشریف آورده ،پانزده فیصد تضمین قبل از آغاز پروسه نقدا اخذ میگردد.۸۹۹

***

موضوع : درمورد اعلان داوطلبی (۱۰۱) قلم وسایل برقی:

شماره دعوت به داوطلبی:(NCB//۱٤۰۲/MOBTA OPT/G. ۰۱٤)

وزارت امور سرحدات ، اقوام وقبایل ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (۱۰۱) قلم وسایل برقی اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را به طور سافت در (فلش) از آمریت تدارکات اداره مربوط بدست آورده ، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طبق قانون وطرزالعمل تدارکات طور سربسته ازتاریخ نشراعلان الی روز چهارشنبه مورخ ۱٤۰۲/۰۳/۲٤ راس ساعت (۱:۳۰) بعد ازظهر که ضرب الاجل تسلیمی آفرها می باشد. درصندوق آفرها درریاست تدارکات انداخته ودرجلسه آفرگشایی راس ساعت(۲:۰۰) بعداز ظهر حاضر گردند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفربه صورت گرنتی بانکی ویاپول نقد مبلغ (۲۲۰،۰۰۰) دوصد وبیست هزارافغانی بوده وجلسه آفرگشایی به روز چهارشنبه مورخ ۱٤۰۲/۰۳/۲٤ در ریاست تدارکات تدویر میگردد.

# نخست وزیر روسیه وارد . . .

رئیس جمهور چین شی جین پینگ و نخست وزیر لی کیانگ گفتگو کند و در این دیدارها قراردادهای دو جانبه امضا خواهد شد.

وانگ ونبین، سخنگوی وزارت امور خارجه چین، پیشتر ابراز امیدواری کرده بود که سفر میشوستین و هیئت روسی همکاری بین مسکو و پکن را بیشتر تقویت کرده و مبادلات بشردوستانه و منطقه‌ای را غنی‌تر و انگیزه‌ای قدرتمند برای بهبود اقتصاد جهانی ایجاد کند.

شی جین پینگ در جریان سفر ۲۰ تا ۲۲ مارس به مسکو از رئیس دولت روسیه دعوت کرد تا در اسرع وقت به چین سفر کند تا با نخست وزیر جدید شورای دولتی چین که در اوایل ماه مارس منصوب شد، روابط نزدیک برقرار کند. میشوستین این دعوت را پذیرفت.

او همچنین ابراز اطمینان کرد که می‌تواند با لی کیانگ گفت‌وگوی دوستانه و سازنده داشته باشد.

## له طبیعي پېښو د زیانمنو...

چارو کې د دولت له وزیر ملا محمد عباس آخوند سره وکتل.
په دغه کتنه کې پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر د خپلو وروستیو کړنو، پلانونو او پېښو ته د رسېدو لپاره د یاد وزارت د چمتوالي په اړه د مالوماتو ورکولو پر مهال وویل چې شته امکاناتو ته په پام د پېښو پر مهال مرستې رسونې ته چمتووالی لري او له مرستندویه بنسټونو سره په خبرو بوخت دي، تر څو خپل امکانات ډېر کړي. نوموړي وچکالي او د اوبو د سطحې کمښت جدي ننګونه وبلله، چې له امله یې هېوادوالو ته ګڼې ستونزې رامنځته شوې دي. د ریاست الوزرا کفیل، پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت څخه په مننې وویل چې باید په کور دننه طبیعي پېښو ته په کتو د مرستو رسولو، د زیانمنېدونکو سیمو د پېژندنې او مخنیوي ظرفیتونه لوړ او په ټولو زیانمنو سیمو کې مرستندویه رضاکاران فعال شي. مولوي عبدالکبیر د یادې اداري د ستونزو د حل او وړاندېزونو ته د رسېدنې په موخه اړونده ادارو ته د لازمو سپارښتنو ژمنه وکړه.

## ۱۴ میلیونه ډالر...

او په وینا یې د داوطلبۍ ګټونکي مکلف دي، چې خپل حسابونه د ورځې تر پایه پورې تصفیه کړي.
د افغانستان بانک په خپله ټویټرپاڼه همدارنګه لیکلي، چې د معاملو قسمي تر سره کول مجاز نه دی، د لیلام ګټونکي دې د خپل ذمت پیسې ټولې یوځای نغدې او یا هم په حوالې سره په ټاکلې موده کې د افغانستان بانک ته وسپاري.

## کمک با هزاران خانواده نیازمند...

جلوگیری از سوءتغذیه کودکان و نیم کیلو نمک بوده که در ولسوالی کوت ولایت ننگرهار توزیع شده است. در همین حال، این وزارت برای ۱۵۶۶ خانواده نیازمند و فقیر در ولایت کندز به همکاری موسسه ASIO مواد خوراکی کمک کرده است.
این کمک‌ها شمال آرد، روغن، دال و نمک بوده است که در ولسوالی دشت‌ارچی قندز برای نیازمندان توزیع شده است. از سویی هم، برای ۹۹۴ خانواده در ولایت هرات از سوی سازمان جهانی خوراک (WFP) پول نقد کمک شده است. ریاست احیا و انکشاف ولایت هرات گفته است که این مقدار کمک برای نیازمندان در ولسوالی چشت این ولایت توزیع شده است.
گفتنی است که چندی قبل نیز در ولایت ننگرهار برای بیش از یک هزار خانواده فقیر مواد غذایی توزیع شده بود.

## هشدار شاروالی کابل به ذبح کنندگان...

شاروالی کابل برای ذبح مواشی در زون‌های مختلف محل‌های مناسب را مشخص کرده است و در صورتی که اشخاص و افراد حکمی و حقیقی مرتکب تخلف از این امر یعنی عامل ذبح مواشی در مکان‌های عمومی شده و باعث تعفن و تولید زباله شوند؛ تادیب و مجازات می شوند.

## برای جلب سرمایه گذاری...

انرژی و آب با نشر خبرنامه‌ای گفت است که: در این دیدار، پیرامون استفاده از منابع آب در عرصه زراعت و تولید انرژی در حوزه جنوب غرب، موقعیت اقتصادی هرات و اهمیت استفاده از علوم اقتصادی در عرصه پیشرفت و ترقی کشور بحث صورت گرفت. در این دیدار هیئت رهبری پوهنتون جامی همکاری شان را در تحقق برنامه‌های زیربنایی وعمرانی وزارت انرژی و آب بیان داشتند.
مشاور وزارت انرژی و آب همچنان بر تکمیل و راه اندازی پروژه‌های آبی در کشور معلومات داد و گفت: وزارت انرژی و آب تلاش دارد تا در بخش‌های سکتور انرژی و آبی زمینه‌ی سرمایه گذاری را برای نهادهای ملی و بین المللی فراهم کند.

## میدان وردګو کې خلکو ته د څښاک...

شبکه د فنډرایزېنګ بنسټ په مالي ملاتړ د سید آباد ولسوالۍ د سترې آبدرې سیمې په کاکا چینه کلي کې جوړه شوې، چې پر مټ یې د یاد کلي ۶۶ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي. د یادونې وړ ده چې، د دغه شبکې د جوړولو چارې د ۶ میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي.

## پکتیکا کې زلزله ځپلو ته ۵۰ کورونه...

اخیستنې ته وسپارل شول.
د دغه ولایت د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس مولوي مطیع الله منصور وایي، چې په آسیا کې د ټولنیزو خدمتونو نړېوالې ادارې له لورې په ګیان ولسوالۍ کې زلزله ځپلو کورنیو ۵۰ کورونه جوړ شول، چې هر کور دوه د استوګنې خونې، یو دهلېز او یو پخلنځی لري.
منصور زیاته کړه، په هر کور ۲۱۶ زره افغانۍ لګښت راغلی، چې چارې یې د دوو میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي.
هغه وویل، چې له دې نه مخکې هم یو شمېر زلزله ځپلو ته د خیریه بنسټونو له لورې کورونه جوړ شوي وو.

## ازبیک چارواکي اروپایي ټولنې استازي...

د ازبکستان، اروپایي ټولنې او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام ترمنځ د همکارۍ په اړه خبرې وشوې. په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دوی د افغانستان خلکو ته د بشري مرستو پر رسولو ټینګار وکړ.

## بمب‌های دست‌ساز فلسطینی‌مایه‌ی...

اعلام کرد که استفاده از بمب‌های دست ساز توسط نیروهای مقاومت فلسطین، رژیم غاصب اسرائیل را نگران ساخته و آن را تهدید جدی در برابر خود دانسته است.
طبق این گزارش، استفاده از این بمب‌های دست ساز توسط نیروهای مقاومت در شهر نابلس افزایش چشمگیر داشته و باعث زخمی شدن چندین تن از نظامیان اسرائیلی شده است. در پی افزایش عملیات‌های انفجاری به ویژه بمب‌های دستی، رادیوی ارتش اسرائیل از واکنش سریع این رژیم به چنین حملاتی درادوگاه بلاطه خبر داد.
در ادامه این گزارش آمده که طی این حمله ۳ نفر از فلسطینیانی که به نظر می‌رسید سازنده بمب‌های دستی هستند، بازداشت شده‌اند. این در حالی است که حساسیت‌ها نسبت به این موضوع پس از هدف قرار گرفتن نظامی رژیم اشغالگر در یک موترجیپ نظامی واقع در نابلس به طرز قابل توجهی افزایش پیدا کرده است و شهروند فلسطینی به آوا گفت که ارتش اسرائیل تا کنون بیش از ۲۰ تن را بازداشت کرده است که در این میان ٤ تن را به قتل رسانده‌اند. پس از این حادثه، یک منزل مسکونی در نابلس پیش از ورود نیروهای صهیونیستی نیز با بمب‌های دستی تله گذاری شده بود که به محض ورود این نیروها منفجر شد. شب گذشته نیز منابع خبری در اراضی اشغالی از هدف قرار گرفته شدن موتر حامل شهرک نشینان صهیونیست در نزدیکی جبل الصبیح در شهرک بیتا در جنوب نابلس واقع در کرانه باختری خبر دادند. سخنگوی ارتش رژیم صهیونیستی درباره جزئیات این عملیات ضد صهیونیستی گفت که عملیات تیراندازی به سمت موتر شهرک نشینان در نزدیکی ایست بازرسی زعتره در شمال کرانه باختری صورت گرفته است.

## سرپل او بامیانو کې لوی...

قومندان مولوي صدیق الله شاهین مسافر، د اطلاعاتو او کلتور رییس مولوي سیف الرحمن محمدي، د ارشاد، حج او اوقافو رییس مولوي شمس الله احمدي او نورو ګڼ شمېر مسوولینو په شتون کې پیل شوې.
دغه جومات د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په مالي لګښت جوړېږي، چې چارې به یې د ۵ میاشتو په موده کې بشپړې شي.
د یو بل خبر له مخې، د سرپل ځایي مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز کې د خلکو په شخصي لګښت د ۶ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه جومات د جوړولو چارې پیل شوې.
د مسؤلینو په خبره، چې دغه جومات د مرکز اړوند په بیش باغ سیمه کې په ۲۲۵ متر مربع ځمکه کې جوړېږي، چې پرې ۶ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.
دغه جومات په یوه وخت کې د ۵۰۰ کسانو د ځایولو وړتیا لري.

## هیئت افغان با مقامات فدراتیف روسیه...

ومسایل ترانزیتی و اتصال منطقوی نشست‌های مهمی داشت که نتایج آن به نفع افغانستان و منطقه خواهد بود.
وی گفت که هیئت افغانستان در این سفر با رئیس جمهور تاتارستان نیز دیدار کرد. موصوف همچنان افزود که سفر هیئت افغانی به تاتارستان و اشتراک در یک نشست بین المللی مورد توجه قرار گرفت و هیئت افغانی با نمایندگان کشورهای شرکت کننده روی مسایل تعلیمی و تحصیلی بحث‌های داشت و از همکاری آنان اطمینان حاصل شد.
مولوی عبدالکبیر گفت: گسترش روابط اقتصادی میان امارت اسلامی منطقه و جهان برای همه طرف‌ها مفید است و تلاش‌های وزارت صنعت و تجارت در این زمینه قابل قدر است. وی افزود که کشورهای منطقه بازار مناسب برای واردات نفت و مواد اولیه برای افغانستان استند و به این بخش توجه خواهد شد.

## کشته و ناپدید شدن...

انسانی و خسارات مالی برای مردم وارد شده است.
به گفته وی، بر اثر این رویداد ۵ زن، یک مرد و یک طفل کشته و یک زن دیگر مفقود شده است.
مولوی حماس همچنین اظهار نمود که بر اثر این سیلاب، یک مسجد، یک مدرسه و هفتاد دکان و تعداد زیادی از منازل مسکونی نیز تخریب شده است.
ولایت غور از ولایات غربی کشور است که به دلیل کوهستانی بودن بسیاری از مناطق آن، شاهد حوادث طبیعی زیادی در طول سال می باشد.

منبع:«آوا»

## گرامیداشت از هفتمین سالگرد شهادت...

دیگر را به جا نگذاشت .
رئیس اطلاعات وفرهنگ هرات در این برنامه همچنان از کسانی که به خارج از کشور رفته اند خواست تا به کشور بر گردند و در صلح و آرامش در خاک شان زندگی کنند.
مولوی عبدالله امینی رئیس معارف هرات نظام کنونی را ثمره‌ی خون شهدا دانسته و بیان داشت که اهداف شهدا برآورده خواهد شد.
همچنان سخنرانان در این محفل از رهبر پیشین امارت اسلامی شهید ملا اخترمحمد منصور به عنوان شخص وطن دوست، شجاع ، غازی و قهرمان یاد کردند که در دوره‌ی اشغال، برعلیه بیگانه گان واشغال گران تا آخرین لحظات زندگی اش، جنگید و در نهایت جام شهادت نوشید.
ملا اختر محمد منصور، رهبرپیشین امارت اسلامی افغانستان ، هفت سال پیش در اول جوزا، در حمله هوایی امریکا به شهادت رسید.

## لغمان کې ۳۰ کیلو متره نوی...

ولسوالۍ نویا درې د خندلو نه تر غربي نورستان پورې د ۳۰ کیلو متره سړک چې ۶ متره سور لري د جوړېد چارې یې پیل شوې.
متوکل زیاته کړه، چې د یاد سړک په جوړېدو کې د کار وسایل د دولت شاه ولسوالۍ له لورې ورکول شوي او د کار چارې یې خپله د نورستان د ولسونو او یو شمېر موسسو په مالي لګښت ترسره کېږي.
د یادونې وړ ده چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د دولت شاه ولسوالۍ او غربي نورستان سلګونو کورنیو د تګ-راتګ ستونزې کمې شي.

## بېلابېلو ولایتونو کې له ترافیکي پېښو۱۶...

پېښو په له امله څلور تنه مړه او دوه نور ټپیان شوي دي. د پروان د ترافیکو مدیریت د ترافیکي پېښو د څېړنې مشر ویلي، چې نن سهار شاوخوا اووه بجې د شینوارو ولسوالۍ د باغ افغان په کلي کې یو کرولا موټر له سړکه واوښت او چپه شو او سیند ته ولوېد، چې له امله یې یوه ښځه مړه او دوه نارینه ټپیان شول. محمدي زیاتوي، چې دغه پېښه هغه مهال رامنځته شوه، چې په دغه موټر کې سپاره کسان سیاه ګرد ولسوالۍ ته پر لاره وو. له بلې خوا د غزني د امنیې قوماندانۍ ویاند خالد سرحدي وایي، چې پرون ماښام د کلا قدم په سیمه کې دوو تنو موټر سایکل سپرو د ټکر له امله خپله ژوند له لاسه ورکړی دی. دغه راز پرون د غزني د اندړو ولسوالۍ په بازمیري سیمه کې د یوې بلې ترافیکي پېښې له امله هم یو کس مړ شوی دی.همداشان، د لوېدیځ نورستان نورګرام ولسوالۍ اړوند د کلتن درې په ګورا سیمه کې د ORCD موسسې د ګرځنده روغتیایي ټیم د ډاکترانو موټر چپه شوی، چې په کې ۶ تنه ټپیان شوي دي. د دغه ولایت روغتیایي مسوولینو وایي، چې د پېښې ټپیان د لومړنۍ مرستې او درملنې لپاره د کولتن فرعي روغتیایي مرکز ته انتقال شوي او اوسمهال تر جدي څارنې لاندې دي. د یو بل خبر له مخې؛ د غور د شهرک ولسوالۍ په کته چشمه سیمه کې د یوې ترافیکي پېښې له کبله یو کس مړ او یو ۵ کلن ماشوم ټپي شوی دی.

## بامیانو کې د ۲۴ روغتیایي مرکزو د رغونې...

د والي په حضور کې په ولایتي دفتر کې پرانیستل شوې، د دغې روغتیایي پروژې لګښت ۳۵.۵ میلیونه افغانۍ دی، چې د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق له لوري ورکول کېږي. ټاکل شوې دغه روغتیایي مرکزونه د بامیانو ولایت د اوو ولسوالیو په لرو پرتو سیمو کې چې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، جوړ شي. تمه ده چې په بامیانو کې د یادو شویو روغتیایي مرکزونو د جوړېدو او ترمیم په بشپړېدو سره به د دغه ولایت د اوسېدونکو روغتیایي خدمتونو ته د نه لاسرسي ستونزې راکمې شي.

## فاریاب کې د دربو سیمو بیا رغونې...

تائیدېدو خبر ورکړی دی.
یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د ښاري چارو د نقشو د ویزه کولو کمیسیون غړو د ښاري چارو مرستیال شیخ مدار علي کریمي بامیاني په مشرۍ په ناسته کې همدارنګه د دې کمیسیون غړو په بېلابېلو ښاري موضوعاتو لکه د بامیان ولایت د (کوسه بند) د تفصیلي پلان په اړه خبرې اترې وشوې.
سرچینې زیاته کړې، چې د ښاري چارو مرستیال د ښاري نقشو د ویزه کولو کمیسیون غړو د ښاري چارو اړوند پرېکړو کارونه په خپل وخت تائید کړل او د بامیانو ولایت د (کوسه بند) د تفصیلي پلان د فني ستونزو د حل په موخه یې لازمې لارښوونې وکړې.

## هرات کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا...

د دغې پروژې له پیلېدو هرکلی کوي. د هرات سیمه ییز چارواکي وایي، په دغه ولایت کې د بادي برېښنا د تولید پروژې د پیل لپاره چمتووالی نیول شوی دی. د دوی په وینا د دې پروژې له پیلېدو سره به سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. اوسمهال د هرات د اړتیا وړ برېښنا له ایران او ترکمنستان څخه واردېږي.

## په عینک کې کشف شوي تاریخي...

سرپرست زبیر عبادي ته وسپارل شول.
په دغو اثارو کې سفالي کوزې، سفالي څراغونه، د عقیقو مهرونه، د سپینو زرو او مسي سکې او نور شیان شامل دي، چې د کوشانیانو، ساسانیانو او یفتلیانو د دورو اړوند وو.
د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم د هېواد له ګوټ ګوټ څخه راټول شوي ګڼ شمېر تاریخي اثار د افغانستان ملي موزیم ته سپارل شوي وو.

## پنجشېر ته ۸ تنه پولنډي سیلانیان...

کې بشپړ امنیت د دې لامل شوی، چې ډېری بهرني سیلانیان دغه ولایت ته سفر وکړي.
ملک زاده زیاته کړه، چې د سیلانیانو سفرونه کولی شي د نورو هېوادونو کلتور او اړیکې له یو بل سره نږدې کړي.
باید وویل شي، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې د امنیت په تامین سره بېلابېلو ولایتونو تاریخي او تفریحي سیمو ته سلګونو بهرنیو سیلانیانو مخه کړې ده.

## خوست کې ۱۲ ټنه تاریخ تېر خوراکي...

تنظیم مدیریت له لوري د نږدې یوې میاشتې په موده کې د ښار د بېلابېلو ناحیو له هټیو څخه راټول کړل شوي وو، چې نن ورځ د ټاکل شوي هیئت او رسنیو استازو په شتون کې وسوځول شول.
مسوولینو ډاډ ورکړ، چې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه کوي او چاته به اجازه ورنه کړي، چې تاریخ تېره خوراکي توکي وپلوري.

**Shariat Daily**

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Wednesday 24 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 187


# کشته و ناپدید شدن ۸ تن بر اثر سیلاب در ولایت غور



مسوولین محلی ولایت غور می‌گویند که بر اثر جاری شدن سیلاب در ولسوالی پسابند این ولایت، ۷ تن به شمول پنج زن و یک کودک کشته شده اند.

مولوی حماس غوری، سخنگوی والی غور می‌گوید که دیروز سه شنبه ( ۳ جوزا) بر اثر جاری شدن سیلاب در قریه مدرسه ولسوالی پسابند ولایت غور تلفات ص۷

# گرامیداشت از هفتمین سالگرد شهادت امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور در هرات




از هفتمین سالگرد شهادت امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور با اشتراک مسوولان محلی، فرهنگیان، بزرگان قومی، و حضور گسترده‌ی مردم در هرات یاد بود به عمل آمد.

مولانا نعیم الحق حقانی رئیس اطلاعات وفرهنگ هرات در این محفل گفت: اکنون زمان جهاد اقتصادی است و دیگر مردم از جنگ خسته شده و هیچگاه نمی خواهند که صدای تفنگ و انفجار را بشنوند ما از تفنگ زمانی استفاده می‌کنیم که کسی چشم بد به این سرزمین داشته باشد.

مولانا حقانی در ادامه سخنانش بیان داشت: امریکا با حضور ۲۰ ساله‌ی خود در افغانستان، به جز آسیب رساندن به این کشور، چیز ص۷

# کمک با هزاران خانواده نیازمند در ۳ ولایت کشور



مسوولان در وزارت احیا و انکشاف دهات می‌گویند که در همکاری با نهادهای کمک رسان بین المللی، برای ۴ هزار و ۲۳۲ خانواده نیازمند در ولایت‌های ننگرهار، کندز و هرات کمک نقدی و مواد غذایی صورت گرفته است.

وزارت احیا و انکشاف دهات دیروز سه‌شنبه، ۲ جوزا، گفت که برای ۱٦۷۲ خانواده نیازمند در ولایت ننگرهار با همکاری موسسه (FGA) مواد خوراکی کمک کرده است.

گفته شده که این‌کمک‌ها شامل، پنجاه کیلو آرد، چهار ونیم کیلو روغن، شش کیلو دال، ۳۳ پاکت مواد ص۷

# هشدار شاروالی کابل به ذبح کنندگان مواشی در اماکن عمومی

ذبح مواشی در کنارسرک، پیاده رو و مکان‌های عمومی تخلف شهری است بنابراین شاروالی کابل به عموم ومشخصاً صنف قصابان ابلاغ میکند که اگر در کنارسرک، پیاده رو و سایر مکان های عمومی دست به ذبح مواشی زدنند، مطابق قانون مجازات می شوند. ص۷

# گشایش نخستین مرکز خدمات شبکه مخابراتی افغان بیسیم در پنجشیر

شرکت مخابراتی افغان‌بیسیم، مرکز خدمات این شبکه را در ولسوالی رخه پنجشیر ایجاد کرد.این مرکز خدمات شبکه افغان‌بیسیم در پنجشیر با حضور مسوولان محلی، نماینده‌ی شرکت افغان‌بیسیم و باشنده‌گان ولسوالی رخه گشایش یافت.

عبدالحمید نوری، رئیس مخابرات و تکنالوژی معلوماتی پنجشیر، ایجاد این مرکز را یک گام مثبت در راستای ارایه بهتر خدمات مخابراتی در این ولایت خواند و گفت که این مرکز، سهولت زیادی را در قسمت ارتباطات با باشنده‌گان پنجشیر به خصوص ولسوالی رخه فراهم کرده است.

عبدالظاهر واحدی، نماینده شبکه مخابراتی افغان‌بیسیم در پنجشیر گفت که شبکه مخابراتی افغان‌بیسیم قصد دارد تا تعداد مراکز خدماتی خود را در پنجشیر بیشتر و تسهیلات بهتر را برای باشندگان این ولایت مساعد کند.

# سرپل کې د نشه يي توکو يوه کارخونه له منځه يوړل شوه

د سرپل د امنيې قومندانۍ مسوولين وايي، چې په دغه ولايت کې د نشه يي توکو د توليد يوه کارخونه کشف او له منځه ورل شوې ده.د سرپل د امنيې قومندانۍ وياند دين محمد نظري وويل، چې ځواکونو يې د دغه ولايت د کوهستانانو ولسوالۍ په الر کلي کې د نشه يي توکو يوه کارخونه کشف او له منځه ورې ده.د يادې کارخونې په تړاو ۲ تنه نيول شوي چې دوسيې به يې له څېړنې وروسته عدلي او قضايي ارګانونو ته وسپارل شي.


# بادغيس کې ۵۴ روغتيايي مرکزونو سره د طبي تجهيزاتو مرسته وشوه

د بادغيس د عامې روغتيا رياست مسوولين وايي، چې د دغه ولايت له ۵۴ روغتيايي مرکزونو سره د ۷.۵ ميليونو افغانيو په ارزښت د طبي تجهيزاتو مرسته وشوه.

د مرستو شويو توکو مسوول ډاکتر خليل الله آرين وويل، چې د بادغيس د ۷ ولسواليو له ۵۴ روغتيايي مرکزونو سره د يونيسف موسسې له لوري د ۷.۵ ميليونو افغانيو په ارزښت د طبي تجهيزاتو مرسته شوې ده.

بايد وويل، چې له دې وړاندې هم يونيسف په بېلابېلو ولايتونو کې له روغتيايي مرکزونو سره د درملو او طبي تجهيزاتو مرسته کړې ده.

# نخست وزیر روسیه وارد شانگهای شد



میخائیل میشوستین، نخست وزیر روسیه برای دیدار با شی جین پینگ، رئیس جمهور چین و دیگر مقامات ارشد این کشور وارد شانگهای شد؛ این اولین سفر رسمی وی به عنوان نخست وزیر به چین است.

به نقل از «آوا»، میشوستین، روز سه‌شنبه در شانگهای در یک جلسه عمومی مجمع تجاری روسیه و چین حضور خواهد یافت و از موسسه تحقیقاتی پتروشیمی شانگهای شرکت سینوپک بازدید و با نمایندگان محافل تجاری روسیه دیدار می‌کند.

پس از آن، رئیس کابینه وزرای فدراسیون روسیه به پکن خواهد رفت. وی قرار است در آنجا با ص٦


## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


### مسوولین وزارت انرژی و آب:

# برای جلب سرمایه گذاری درسکتور انرژی وآب تلاش‌میکنیم



داکتر فاروق اعظم مشاور وزارت آب و انرژی دیروز با داکتر میر محمد ایوبی رئیس پوهنتون جامی هرات و شماری از اساتید این نهاد اکادمیک دیدار کرد.

ریاست نشرات وزارت ص۷

# کندهار او زابل کې ۱٦ استنادي دېوالونه جوړ شول



د زابل په مرکز او شاه جوی ولسوالۍ کې د ۲۳۵ زرو ډالرو په لګښت ۱۰ استنادي دېوالونه جوړ او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي. په ورته وخت کې د کندهار په پنجوايي ولسوالۍ کې هم ٦ استنادي دېوالونه جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول. د کندهار او زابل اوسېدونکو د دغو پروژو پلي کېدو خوښي ښيي او په راتلونکې کې د ورته نورو پروژو غوښتنه هم کوي.

# ازبيک چارواکي د اروپايي ټولنې له استازي سره د افغانستان په اړه خبرې کړې دي

د افغانستان لپاره د ازبکستان ځانګړي استازي عصمت الله ارګاشيف په دغه هېواد کې د اروپايي ټولنې له سفير او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام له استازي سره کتلي دي. د ازبکستان د بهرنيو چارو وزارت په يوه خبرپاڼه کې ويلي چې په دې کتنه کې د افغانستان د اتباعو په ځانګړې توګه د هلکانو او نجونو لپاره د تعليمي پروګرامونو د تطبيق په برخه کې... ۷مخ

# پکتيکا کې زلزله ځپلو ته ۵۰ کورونه جوړ شول



پکتيکا کې د طبيعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رياست مسوولين وايي چې د دغه ولايت په ګيان ولسوالۍ کې د ۱۰ ميليونو او ۸۰۰ زره افغانيو په لګښت ۵۰ کورونه Cwsa موسسې په مالي ملاتړ جوړ او ګټې ۷مخ

# ميدان وردګو کې خلکو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د ميدان وردګو د کليو، بيارغونې او پراختيا رياست مسؤلين وايي، چې د دغه ولايت په سيدآباد ولسوالۍ کې د ۲ ميليونه او ۲۰۰ زره افغانيو په لګښت د څښاک اوبو يوه شبکه جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د مسؤلينو په وينا، چې دغه... ۷مخ

# سرپل او باميانو کې لوی جوماتونه جوړېږي

مسؤلين وايي، چې سرپل او باميانو کې د دوو لويو جوماتونو د جوړولو چارې پيل شوې.

د باميانو ځايي مسوولين وايي، چې د دغه ولايت په مرکز کې د ۱۷ ميليونو او ۱۰۰ زره افغانيو په لګښت د يوه جومات د جوړولو چارې پيل شوې.

د مسؤلينو په وينا، چې دغه جومات په ۷۵۰ متر مربع ځمکه کې د ۱۷ ميليونو او ۱۰۰ زره افغانيو په لګښت جوړېږي، چې چارې يې د دغه ولايت د والي مولوي عبدالله سرحدي، امنيې ۷مخ

# بمب‌های دست‌ساز فلسطینی مایه‌ی نگرانی رژیم صهیونیستی



به گزارش رسانه‌های رژیم صهیونیستی، استفاده مداوم نیروهای مقاومت فلسطین از بمب‌های دست ساز در کرانه باختری، مایه نگرانی این رژیم شده است.

به نقل از «آوا»: رسانه صهیونیستی (کان)، ص۷

# د پستې باغونو جوړولو ته د هرات کروندګرو لېوالتيا



د هرات د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په وروستيو کلونو کې د پستې باغونو جوړولو ته د کروندګرو لېوالتيا زياته شوې ده او په تېرو لسو کلونو کې شاوخوا پنځه زره جريبه ځمکه کې د پستې باغونه جوړ شوي دي. د کروندګرو په وينا په دې ولايت کې تر ډېره د پستې دوه ډوله ونې کرل کېږي، چې يوه يې په لويديځو ولايتونو کې مشهوره بادغيسي پسته او بله يې ايراني پسته ده چې نيالګي يې له ايران څخه راوړل شوي دي. د کرنې رياست په خبره د هرات ولايت اقليم د پستې کرنې لپاره مناسب دی او د کوکنارو کروندګر کولی شي د پستې باغونو جوړولو سره بې تاوانه ګټه ترلاسه کړي.